# سیګار

د افغانستان بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي مفتش

د سیګار د **15-16** تفتیش راپور

## د افغان ملي انجینرۍ لیوا:
## د متحده ایالاتو د روزنې هڅو سربیره، نوموړې لیوا په خپلواک توګه د فعالیت وړتیا نلري

جنوري

2016

جنوري 2016

# افغان ملي انجينرۍ لیوا: د متحده ایالاتو د روزنې هڅو سربیره، نوموړې لیوا په خپلواک توګه د فعالیت وړتیا نلري

د سیګار د 15-16 تفتیش راپور

## څه چې سیګار وموندل

USFOR-A ونشو کولی د 2014 دسمبر تر 31 پورې د افغان ملي اردو د ملي انجینرۍ لیوا د "تر یوې کچې وړ" سطحې پورې روزنې په اړه خپل هدف ترلاسه کړي. د دې هدف په ترلاسه کولو کې پاتې راتلل تر ډیره د سرتیرو لومړنۍ روزنه او د روزنې لپاره اړین د انجینرۍ تجهیزاتو چمتو کولو کې ځنډونه و.

د روزنې پروسې د تعقیب کولو لپاره، USFOR-A د ملي انجینرۍ لیوا ته په میاشتني اساس درجه ورکړې. د 2014 اپریل څخه د 2014 تر اکتوبر پورې دورې لپاره د USFOR-A ارزونو ښودلې دي چې د دغه 7 – میاشتو دورې په جریان کې د درجه ورکولو هر میاشتنۍ دورې لپاره د ملي انجینرۍ لیوا د "پرمختګ په حال" کې توګه درجه بندي شوې چې دا د پنځه ممکن درجو څخه دوهم ترټولو ټیټه درجه ده. د 2014 اکتوبر میاشتې لیوا د "پرمختګ په حال" کې درجې لپاره خپلو توضیحاتو کې USFOR-A یادونه کړې چې د ملي انجینرۍ لیوا "مرتجع وه او وړتیا یې نه درلوده چې د اجرآتو څخه 72 ساعتونه دمخه د اړتیاو وړاندوینه وکړي." په توضیحاتو کې دا یادونه هم شوې چې د ملي انجینرۍ لیوا نوښت نه درلود او یوازې هغه مهال یې پلان کاوه چې د USFOR-A مشاورینو به د ورته کار ترسره کولو لپاره هڅول. توضیحاتو کې د دې خبرې د پام وړ یادونه شوې چې د ملي انجینرۍ لیوا د خپل ماموریت ترسره کولو وړتیا نه درلودله.
که څه هم USFOR-A د ملي انجینرۍ لیوا لپاره د روزنې یو تشریحي پلان جوړ کړی، په لومړنیو زده کړو کې ځنډ چې سرتیري ورته د انجینرۍ ښوونځي لپاره د انتخاب کیدو دمخه اړتیا لري، د انجینرۍ روزنې شاوخوا 45 ورځې وځنډولې. د ورته ستونزو څخه ډیری چې لومړنۍ زده کړې یې وځنډولې – لوی درستیز په رخصتیو و، سیاسي پیښنو جریان درلود، د سواد ټیټې سطحې، او د امنیت اندیښنو – هم د ملي انجینرۍ لیوا زده کړې وځنډولې. سربیره پردې، د ګډ کاري ځواک یوه مخکښ چارواکي موږ ته وویل چې زده کړې د دې لپاره ځنډول شوې وې چې افغان ملي اردو نه پوهیدله چې د ورکړل شوې ورځې به د دندې لپاره څوک حاضر وي.

د انجینرۍ تجهیزاتو ترلاسه کولو کې ځنډ هم د روزنې د هڅو خنډ ګرځیدلی. د ملي انجینرۍ لیوا د انجینرۍ دراندہ تجهیزاتو د 2014 تر اګست پورې شتون نه درلود. دې ستونزو سره، د ملي انجینرۍ لیوا یوازې یو مجاز د 30 – ټن کرین درلود او د دې ټریکټر ټرکونو څخه یو هم د 2014 تر اکتوبر پورې تحویل نکړل شول. علاوه لدې، د ګډ کاري ځواک یو مخکښ چارواکي موږ ته وویل چې د افغان تامیناتو مرکزي ډیپو د ملي انجینرۍ لیوا ټول تجهیزات نه درلودل، او ځینې نور تجهیزات د افغان ملي اردو نورو برخو کې ګومارل شوي و.

په 2015 اپریل کې، موږ د دې موندلو لپاره چې د ملي انجینرۍ لیوا خپلو وړتیاو پراخولو کې څومره پرمختګ کړی، نوموړې مسله د CSTC-A سره تعقیب کړه. د 2015 مارچ او اپریل کې د ملي انجینرۍ لیوا د انجینرۍ خپل لومړي ماموریت کې ګډون وکړ چې هلمند ولایت کې د سړکونو پاکولو لپاره خپلې بلډوزرې وکارولې. په هرصورت، د تجهیزاتو نه شتون له امله، د ملي انجینرۍ لیوا لاهم د طبیعي ناورین د هوساینې وړتیا نلري. د CSTC-A په وینا، د ملي انجینرۍ لیوا ته اړین تجهیزات ندي برابر شوي – پشمول د حمل و نقل، دراندہ ټرانسپورټ او ځاه کنستلو تجهیزاتو – ترڅو وړتیا یې ډیره شي.

# سیګار

## د افغانستان بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي مفتش

### هغه څه چې سیګار یې بیاکتنه کړې

د افغان ملي اردو (ANA) مؤثریت ډیرولو لپاره، د متحده ایالاتو ځواکونه – افغانستان (USFOR-A) مشخص کړي چې افغان ملي اردو باید د ملي انجینرۍ یوه لیوا (NEB) ولري چې په مکمل ډول د انجینرۍ تجهیزاتو او وسایطو سره مجهز وي. د پایلې په توګه، د ملي انجینرۍ لیوا په 2013 دسمبر کې تاسیس شوه او د افغان ملي اردو د طبیعي ناورین اضطراري غبرګون قطعې په توګه وانګیرل شوه چې د نورو شیانو ترمینځ د پلونو جوړولو او پاکو اوبو څاه ګانو جوړولو وړتیا به ولري. د 2014 تر نومبر پورې د ملي انجینرۍ لیوا د افغان ملي اردو شاوخوا 950 سرتیري درلودل.
د ملي انجینرۍ لیوا د روزنې مسؤلیت USFOR-A په غاړه درلود، پداسې حال کې چې د ګډ امنیتي لیږد قوماندہ – افغانستان (CSTC-A) د نوموړې لیوا د تجهیزاتو او وسایلو د راغوښتلو مسؤلیت درلود. سربیره پردې، د متحده ایالاتو فرعي قوماندو، پشمول د ګډ کاري ځواک (JTF) مخکښ، د JTF متخصص، د بحري ځواک ګرځنده تعمیراتي چارو کنډک (NMCB) 25، او NMCB 28 د نلدوانۍ، د بریښنا کار، نجارۍ، معمارۍ، او دراندو تجهیزاتو کارولو په څیر برخو کې د ملي انجینرۍ سرتیرو روزنه ترسره کړې. د پلان له مخې د ملي انجینرۍ لیوا باید د انجینرۍ تجهیزاتو او وسایطو په برخه کې لږترلږه 29 میلیون ډالر ترلاسه کړي. د USFOR-A اساسي موخه د 2014 اکتوبر تر 1 نیټې پورې د افغان ملي اردو لپاره د "بشپړ وړ" ملي انجینرۍ لیوا رامینځته کول و. په هرصورت، په 2014 میی کې USFOR-A خپله موخه راټیټه کړه چې د 2014 دسمبر تر 31 نیټې پورې یوازې "تر یوې کچې وړ" د ملي انجینرۍ لیوا تاسیس کړي.

د دې تفتیش موخې دا ارزول و چې ترکوم حد پورې USFOR-A د 2014 دسمبر تر 31 پورې د "تر یوې کچې وړ" د ملي انجینرۍ لیوا تاسیس کولو د روزنې په برخه کې USFOR-A خپل هدف لاسته راوړی دی، او هغه ننګونې وپیژندل شي چې USFOR-A ورسره د خپل هدف ترلاسه کولو کې مخ شوی دی.

سیګار پدې راپور کې وړاندیزونه نه کوي.